# افغانستان، افغان اولس
# او حامد کرزے

**عقیل یوسفزے**

اقبال څۀ ښۀ وئیلي دي چې افغانستان د ایشیاء زړۀ دے، کۀ دے د پرېشانۍ سره مخ وي نو د دې اثرات به په پوره ایشیاء پرېوځي. نن افغانستان د ټولې دنیا د فکرمندۍ او دلچسپۍ مرکز جوړ شوے دے او اوس خو د دې سره متعلقه معاملات د ایشیاء پورې محدود نۀ دي بلکې ټوله دنیا د دې په ولقه کښې راګېره شوې ده.

د ۱۹۷۸ء نه پس دې بدنصیبه وطن دومره جنګونه ولیدل او وزغمل چې کۀ چرته بل وطن وے نو اوس به په مخ د زمکې موجود هم نۀ ؤ. دا وطن چې څنګه د خپلو سره سره د پردیو د سازشونو او ظلم او ستم ښکار شوے دے، د دې مثال پۀ انساني تاریخ کښې ډېر کم په لاس راځي.



افغان اولس تر اوسه د قسم قسم پوځي مداخلتونو او د القاعده د چترۍ لاندې بې شمېره ملکي او غېر ملکي جهادي قوتونو د موجودګۍ او ورانکارۍ باوجود نۀ صرف د خپل وطن سلامتي یقیني کړې ده، بلکې دا ټول قوتونه ئې د یوې سیاسي حکمت عملۍ او خاموشه سفارتکارۍ او مطالبې په ذریعه د خپل وطن نه د وېستلو ممکنه لارې چارې هم لټولې دي.

د افغانستان په حقله پاکستاني مېډیا او د دې تجزیه نګاران د ډېرو حقائقو او بدلونونو نه مخ اړوي او هغه کروړونه افغانان مسلسل نظر انداز کوي کوم چې د افغانستان حقیقي خېرخواه دي. دا هغه خلق دي چې په افغانستان کښې اوسېږي او نۀ صرف د افغانستان په تعمیر او ترقۍ کښې بوخت دي بلکې د افغانستان په اوسنیو انتخاباتو کښې ئې د ټولو خطرو او دپکو دړکو باوجود په ډېره ځوانمردۍ برخه واخسته او دنیا ته ئې دا پېغام ورکړو چې په افغان اولس د حکمرانۍ حق صرف افغانان لري نۀ چې کوم بېروني قوتونه او تنظیمونه.

د ۲۰۰۹ء د حالیه انتخاباتو په دوران کښې د طالبانو د دپکو دړکو باوجود د هلمند او قندهار سره سره په ټول افغانستان کښې اولس (ښځو او سړو) ووټونه واچول او د خپلې جمهوریت پسندۍ نوے مثال ئې قائم کړو. پاکستاني تجزیه نګاران کوم چې حامد کرزي ته د مغرب ګوډاګے وائي، هم

دغه حامد کرزي د بې ځایه مداخلت او منفي رویې په وجه د پاکستان او افغانستان دپاره د امریکې وائسرائے رچرډهالبروک سره په یو ملاقات کښې دومره ترخې خبرې وکړې چې د هغهٔ ګارډ د میټنګ په دوران کښې دننه راغے او د وائسرائے موصوف خبریت ئې وپوښتو. هم دې حامد کرزي د امریکې د خواهشاتو برعکس طالبانو، حزب اسلامي او نورو ډلو سره رابطې وکړې او دا ټولې ئې په یو قابل امن فارموله د اماده کولو مهم وچلولو او د غېرت بهیر غوندې مخالف باندې ئې هم ستېږه واخستو او دے ئې پهٔ عزت منده طریقه د امریکې د قبضه نه رابهر کړو. حامد کرزي په معصومو او بې ګناه خلقو د فائرنګ کولو ذمه وارو شپږو امریکي کمانډرانو نه نهٔ صرف وضاحتونه وغوښتل بلکې دوي ئې واپس پینټاګون ته هم ولېږل.

نن کرزے د پاکستاني مبصرینو د وېنا برعکس په افغانستان کښې ډېر مقبول دے او هم دا وجه وه چې امریکې او د هغې مېډیا د اوسنیو انتخاباتو نه وړاندې د عبدالله عبدالله په حق کښې زبردست مهم وچلولو او پوره پوره کوشش ئې وکړو چې حامد کرزے د حکومت او سیاست نه بهر کړي خو عوامو بیا هم په حامد کرزي اعتماد وکړو خو کله چې د انتخاباتو نتیجو ته ګوته ونیوې شوه نو هم حامد کرزے د مزاحمت یا تاؤ تریخوالي په ځائے



د دوباره انتخاباتو دپاره رضامند شو او جمهوري او پارلیماني اقدارو ته د ورپېښو خطرو ئې په نره مقابله وکړه. خو لکه عبدالله عبدالله ته چې د خپلې غلطۍ احساس شوے وي او په دې هم پوهه شوے وي چې کهٔ انتخابات دوباره هم وشي خو اولس به بیا هم خپله رایه حامد کرزي ته ورکوي نو ځکه د دوباره انتخاباتو کولو نه دستبرداره شو او د نومبر په نولسمه حامد کرزي په هسکه غړۍ او ویاړ د افغانستان د صدر سوګند پورته کړو چې دغه تقریب کښې د نورو ډېرو هېوادونو د استاځو سره سره د پاکستان صدر اصف علي زرداري، وزیر داخله رحمان ملک، اسفندیار ولي خان، افراسیاب خټک، افتاب شېرپاؤ او محمود خان اچکزي هم شرکت وکړو.

کوم خلق چې په افغانستان کښې دوباره د طالبانو د برسرِ اقتدار راتلو خوبونهویني او د دې په حقله پېش ګویانې کوي د دې یو نیم کروړه ووټرانو رائې او خواهش څنګه هېروي چا چې د سیاسي، پارلیماني او جمهوري نظام په حق کښې ووټونه استعمال کړل او دې ووټ اچونکو کښې یو شمېر د طالبانو او حزب اسلامي د حمایت کوونکو هم شامل وو.

د فرسوده او مقبول عام تجزیو برعکس د اعدادو شمار نه معلومېږي چې د افغانستان موجوده تجزیهٔ کار، باشعوره او لوستي حکمرانان په نورو د انحصار کولو په ځائے د افغانستان د سول او ملټري ادارو په جوړولو او مضبوطولو نهٔ صرف ډېره توجه ورکوي بلکې اوس هغوي په حقیقت کښې د دې قابل شوي دي چې د خپل وطن، ښارونو او سرحدونو حفاظت په خپله وکړي.

د اطلاعاتو مطابق د دوه لکو نه زيات افغانان د افغانستان په پوليس او پوځ کښې موجود دي. د امريکې د ميډيا مطابق د طالبانو خلاف په ډېرو کارروايانو کښې د اتحادي پوځونو برعکس د افغان نېشنل آرمي، پوليس او انټيلي جنس ادارو کارکردګي ډېره موثره وه.



د اقوام متحده د يو رپورټ مطابق د طالبانو حکومت د ختمېدو نه پس ۴۰ لکه افغان مهاجرين د مختلفو ملکونو نه افغانستان ته واپس شوي دي. د دغه رپورټ مطابق ۲۰ لکه ماشومان او ماشومانې په مختلفو ادارو کښې تعليم حاصلوي او د هر شپږم افغاني سره د موبائل اساني ده. د ۲۰۰۷ء په دوران کښې د ورلډ بېنک د يوې سروې مطابق افغانستان کښې د جي ډي پي زياتېدو شرح ۱۴ فيصده وه، کومه چې د پاکستان نه زياته وه. د يوې بلې سروې مطابق افغانستان په مستقبل قريب کښې په انتهائي کمو مالي وسائلو خرڅ کولو د کربونو ډالرو ګېس، اوبۀ، وسپنه، سرۀ زر، تېل او نور معدنيات په خو کاله کښې معلومولے شي او د يو خودکفيل رياست حېثيت ترلاسه کولے شي. په دې



سلسله کښې د جرمني، روس، چين او نورو ډېرو ملکونو کمپنۍ په دغه پراجېکټونو کار کوي.

دلته يوه بله خبره کول هم ضروري دي چې د طالبان او عسکري قوتونه اوس د افغانستان نه زياتې کارروايۍ په پاکستان کښې کوي. د پاکستان د يوې معتبرې تحقيقي ادارې PIPS د يو حاليه رپورټ نه د پاکستان او افغانستان کښې کېدونکو حملو او چاؤدنو د واقعاتو د شرحې اندازه په اسانه لګي. د دې رپورټ مطابق ۲۰۰۸ نه واخله تر جنوري ۲۰۰۹ء په دوران کښې پاکستان کښې ۵۴۰۸ خلق مړۀ شول او ۵۳۸ ژوبل شو، د دې برعکس په افغانستان کښې دا شرح په کمېدو ده. هلته په دغه موده کښې په دې واقعاتو کښې ۲۳۳۹خلق مړۀ او ۱۱۹۳ ژوبل شوي دي. د يو بل رپورټ مطابق ۲۰۰۷ء په مقابله کښې ۲۰۰۸ کښې افغانستان کښې په خودکُش حملو کښې ډېر کمے راغلے دے. ۲۰۰۷ء کښې هلته ۱۴۰ خودکُش حملې شوې وې خو ۲۰۰۸ء کښې د دې شمېر ۸۴ ته راپرېوتو. کال ۲۰۰۹ء د پاکستان او خصوصاً د دې د رياستي او دفاعي ادارو د پاره بدترين ثابت شو او په دغه دوران کښې په ادارو او اشخاصو د حملو تناسب ورځ په ورځ په زياتېدو شو.

د دې ټولو شمېرو او حقائقو نه دا اندازه لګول ګران نۀ دي چې افغانستان د پاکستان تجزيه نګارانو د دعوو، خواهشاتو او تبصرو برعکس د ماضي په نسبت امن او ترقۍ طرفته روان دے.